# په تصوف کښې د یقین پړاوونه

# Step by Step Certainty in Sufism

Aryana Haqpal Rahimi*
Dr Mohammad A jan Haqpal**

**Abstract:**

Lexically certainty means without doubt, insight, knowledge, information, the knowledge having no doubt. And in Sufism, anything which is obvious, constant and void of doubt is called certainty.

Certainty is of three types:

- Elmulyaqeen
- Ainulyaqeen
- Haqulyaqeen

According to Sufis knowing the almighty Allah through wisdom and narration is Elmulyaqeen. Observation of some characteristics of the manifestation of the Almighty Allah is Ainulyaqeen. And the manifestations of the existence of the Almighty Allah are Haqulyaqeen.

Elmulyaqeen is the outward appearance of sharia, Ainulyaqeen is sincerity in it and haqulyaqeen is its observation. So, according to Sufis, these stages of certainty should be implemented in order to be able realize the existence of the Almighty Allah

**Key Words:** Lexically, Sufism, Certainty, wisdom and narration, Ainulyaqeen, Haqulyaqeen, Elmulyaqeen

په پښتو ادب کې لومړني بشپړ منظوم او منثور اثار له روښاني دورې څخه لاس ته راغلي دي. د دې دورې نثر او نظم په يوې ځانګړې موضوع راڅرخي چې هغه تصوف دی، دغه دوره بېلابېل تصوفي اصطلاحات تشريح کوي نو اړينه ده چې مونږ د تصوف په اړه پشپړ معلومات ولرو، هره موضوع چې دوی ورته اشاره کړې په پوره ډول يې بايد وڅېړو ترڅو د روښاني دورې نظم او نثر د بڼې ترڅنګ د موضوع او محتوی له مخې هم راجوت شي. د همدې موخې پر اساس

---

* Lecturer University of Kabul Afghanistan
** Professor at Kabul Afghanistan

ما د تصوف پر یوې مهمې موضوع لیکنه غوره کړه چې هغه په تصوف کښې د یقین اصطلاح ده. دا موضوع د لغت او اصطلاح له مخې په لاندې توګه وړاندې کوو:

یقین په لغت کښې بې شکه، بې ګمان، بې ګوماني، بصیرت، علم، اطلاع، هغه پوهه چې پکښې شک نه وي، پر یوې خبرې باندې د زړه په اعتبار او اعتماد اطمینان او باور ته وايي هغه علم او خبر چې د شک او ګومان تر لرې کولو او تحقیق او استدلال وروسته ترلاسه شي ، همداراز هغه امر چې څرګند او ثابت وي، شک او شبه پکښې نه وي، یقین یې بولي.

په همدې توګه هغه غوڅ باور چې له واقعیت سره سمون ولري او په شک کښې و نه لوېږي، یقین ګڼل کېږي. په لغت نامه دهخدا کښې یې داسې تعریفوي: "هر ثابت، څرګند شی او پرې پوهه درلودنه او د زړه ډاډ چې له هغه شي سره یې اړیکه ساتلې ده، هم ورسره موافقت ولري یقین یې بولي." [۱]

یقین د علم او پوهې په توګه هم ګڼل شوی د لغت نامه دهخدا په یو بل ځای کښې یې داسې تعریفوي: د څېړونکي د څېړنې پر اساس هغه پوهه او علم دی چې په رښتیا ، سمه، ښکاره، باور او د رايې په ترلاسه کولو سره رامنځ ته شوي وي، یقین یې بولي. د یقین کلمه د ګومان د کلمې په مقابل کښې په پرتلیز ډول راغلې ده. دا دواړه کلمې د پیر روښان له نظره دوه مهم اصطلاحات دي چې د یوه حقیقي وجود (ماسوی) په لړ کښې د سالک د دوو روحاني منزلونو غمازي کوي.

"د ګومان حالت هغه دی چې سالک لا د (دویی) یا (ماسوی) د وجود قایل وي یعنې ده لا د یوه وجود مشاهده او مکاشفه نه وي حاصله کړې کله چې دغه مشاهده او مکاشفه حاصله کړي نو د یقین حالت ته رسېږي او د یقین درجه یې بولي." [۲]

په مباني عرفان او تصوف کښې د یقین په اړه داسې څرګندونې شوې دي: "... یقین په اصطلاح کښې هغه ښکاره مخ کتنه ده چې د ایمان په قوت وي نه په دلایلو او لاسوندونو، یعنې دلیلونه ټول حجاب شي او بې دلیله ایمان راوړل شي." [۳]

د ټولو احوالو اصل او پای یقین دی چې په هغه سره د عارف له زړه شک او شبه وځي او یوازې مطلوب ویني. ابو عبدالله حنیف وايي: (یقین د غیبت په حکمت سره د راز د ښکاره کولو حقیقت دی).په (فرهنګ اصطلاحات عرفاني ابن عربي) اثر کښې د یقین په اړه لاندې عربي شعر رااخیستل شوی دی:

"ان الیقـین مقـر العلـم فـی الخلـــد فـی کـل حـال بوعـد الواحـد الصـمد
ان الیقــین الــذی التحقیــق حصــله اعکــف علیــه ولاتنظــر الــی احــد
فـان تزلـزل عـن حکـم الثبـات فـما هــو الیقـین الـذی یقـوی بـه خلـدی" [۴]

په پورته شعر کښې يې يقين داسې تشريح کړی دی: (د زړه په تل کښې د بې نيازه ذات په وعدې سره په هر ډول حالت کښې د علم ځای ځايګي ته يقين ويل کېږي. په حقيقت کښې يقين ترلاسه شوې څېړنه او تحقيق دی، نو ته مخ ور واړوه او پر هېڅچا باندې نظر مه اچوه خو که ثبات دې له لاسه ورکړ نور نو هغه يقين نه دی چې پر هغه باندې زما د زړه تل پياوړی شي.)

د روښانيانو په اند يقين ته د رسېدو لپاره بايد سالک د ګومان مرحله تېره کړي چې په دې مرحلې کښې خفي ذکر تر سره کېږي، په دې اړه د يقين او ګومان په اړيکه ملا ارزاني دا ډول څرګنده کړې ده: "... ګمان د سالک هاغه روحاني حال دی چې لاو دوی په حجاب کښې وي او په ماسوی کښې ګرفتار وي. کله چې هم د دې خفي ذکر په اساس ده ته د يو وجود کشف او مشاهده حاصله شي نو دی د يقين درجې ته ورسي. د دوی د حجاب او د ماسوی د ګرفت نه ازاد شي." [۵]

دا يوه ښکاره خبره ده چې د روښانيانو په دوره کښې د تصوف بېلابېل پړاوونه بېلابېلو شاعرانو (ملا ارزاني خوېشکي، مرزا خان انصاري، دولت لواڼي، علي محمد مخلص او...) په ډېره واضحه توګه څرګند کړي دي، يقين هم د دې دورې شاعرانو ښه سپړلی دی چې د تصوف اساس يې ګڼلی شو، ملا ارزاني خوېشکی وايي:

"دا کامـــل بــه ورڅرګنـــد کـــړه حـــق تـــر تـــا نـــزدې وتاتـــه
چـــې يقــين دې پـــه پـــير وشـــي تـــه بـــه خـــلاص شـــې لـــه ګمانـــه
د ګـــــمان قارګـــــه وباســـــه د يقـــــــين پـــــه غـــــر کمانـــــه
نـــن کامـــل لـــره کـــه ورشـــــې ســـتا خـــاطر بـــــه کـــا نشـــانه
د تـــا مـــه بـــه در څرګنـــــد کـــا د زړګـــــوتي لـــــــه اســـمانه
حـق موجـود لـه هـره جـــوده دی بـې مثلـــــه بـــې نشـــانه" [۶]

همداراز پوره يقين ته د رسېدو لپاره د خفي ذکر ترڅنګ د خفي شرک اصطلاح هم شته چې پير روښان ورته پټ شرک وايي: "د خفي ذکر په ترسره کولو سره سالک د يقين مرحلې ته رسېږي او له خفي شرک څخه ازاد وي چې دغه وخت سالک يا عارف خپل وجود له يو وجود سره پيوست ګڼي او دا هغه وخت دی چې د دوی په اند حق له حق سره ويني." [۷]

خفي شرک داسې یوه مرحله ده چې سالک لا هم خپل وجود او هستي محسوسوي. د پیر روښان له نظره څوک چې د خپلې هستۍ حس وکړي نو دی په خفي شرک کښې واقع دی او دغه حالت یې خفي شرک ګڼل کېږي." ... ده ته په دې مقام کښې د خپلې هستۍ احساس هم خفي شرک معلومېږي. او ځکه په دې مقام کښې دی د شرک د دغه احساس نه فارغ کړي." [8]

ابو حنیف د یقین په اړه نظر وړاندې کوي چې یقین په حکمت سره د سر (راز) بینا کېدل (څرګندېدل) دي. همداراز مولوي په خپل کلام کښې یقین داسې تشریح کړی دی:

"علـم جویـای یقـین باشـد بـدان          و ان یقـین جویـای دیـد اسـت وعیـان
دیـد زاهـد از یقـین بـې امتهـال          ان چنـان کـز ظـن همـی زایـد خیـال
انـدر "الهـیکم" بیـان ایــن ببـین          کـه شـود علـم الیقـین عـین الیقـین" [9]

په پورته بیتونو کښې ابو سراج یقین په درېیو برخو وېشلی چې علم الیقین، حق الیقین او عین الیقین یې بولي. همداراز د یقین خاوندان یې هم درې برخې ګڼلې دي چې عوام، خواص او اخص دي.

اهـل یقـین طایفـه دیگرنـد          مـا همـه پـاییم گرایشـان سـراند

د یقین نوموړې درې برخې د پیر روښان او نورو صوفیانو په وېشنه کښې هم ذکر شوې دي او هر یو یې د سالک لپاره یو بېل پړاو دی چې په لاندې توګه یې په لنډ ډول تشرح کوو:

۱ - علم الیقین: "پر یو کار پوهېدنه چې پکښې شک او شبه نه وي، علم الیقین یې بولي." [10]

د ارزاني خوېشکي په کلیاتو کښې داسې څرګندونه شوې: "د یقین په درېیو درجو کښې لومړۍ درجه د علم الیقین ده چې په معتبرو ذریعو او دلیلونو سره د یو شي په اړه د یقین علم ته وایي، ځینې صوفیان په ښکاره پر شریعت عمل کولو ته د علم الیقین درجه وایي." [11]

"هغه علم چې په دلیل یا متواتر روایت حاصلېږي علم الیقین دی." [12] یا هم: "هغه یقین چې بنیادم ته د څه شي په پوهېدو حاصلېږي، لکه اور چې اوبه سوزوي." [13]

د عقل او نقل په واسطې د خدای(ج) پېژندل همداراز پر هغه کار پوهېدل چې شک او ګومان په کښې نه وي یا هغه یقین چې بنیادم ته د کوم شي د کیفیت او ماهیت پر پوهېدو حاصلېږي لکه اور چې اوبه وسوزي علم الیقین یې بولي. د کشف الحجوب په اردو ژباړه کښې میان طفیل محمد داسې څرګندونه کړې ده: "له علم الیقین څخه مراد دا دی چې انسان په علمي دلیلونو سره د کایناتو پر غیب باندې یقین وکړي او همدا د علماوو درجه ده." [14]

۲ - عین الیقین: "په سترګو د یوه څیز لیدنه او د دې څیز ماهیت او څرنګوالی په یقین سره درک کول. د هغه شي یا کار پر ماهیت یقین او باور لرل چې په سترګو لیدل کېږي." [۱۵] یا هم: "هغه یقین چې په مشاهدې یا پر بل چا باندې د اغېزې ښندلو له امله ترلاسه شي." [۱۶]

په تصوف کښې د خدای(ج) د ځینو صفتونو او تجلیاتو شهود او لیدنه- داسي معامله چې په سترګو لیدو نه وروسته پرې یقین وکړی شي.

عین الیقین د خدای تعالی د عارفانو مقام دی، په دې معنا که د انسان یقین د حقیقت په اړه دومره شي چې له حقیقت څخه پرده پورته شي نو هم به د عارف پر یقین څه شی ورزیات نه شي کړی، د حضرت شیخ علي هجویري پر وینا تر همدغې درجې ور رسېدو وروسته انبیاوو ته د نبوت او رسالت جامه ور په غاړه کېږي او دا هماغه مقام و چې حضرت ابراهیم(ع) ورته تر رسېدو وروسته په ډېرې بې پروایۍ سره دا دوې خبرې اعلان کړې : "(یا قوم اني بری مما تشرکون) او (اني وجهت وجهی الذی فطرالسموات والارض حنیفا وما انا من المشرکین) یعنې ای زما قومه! زه بېزار یم له هغه څه چې تاسې له خدای(ج) سره شریک راوړئ. (له نورو څخه جلا) ما خپله مخه په بشپړ ډول سره د هغه ذات لوري ته اړولې چې ځمکه او آسمانونه یې پیدا کړي او زه له مشرکینو څخه نه یم." [۱۷]

همداراز عین الیقین هغه دی چې پوه شي په وجود کښې د حق له ذات، صفات او افعالو نه غیر نور څه نشته. عین الیقین هغه دی چې ووینې هر څه چې دي د حق تعالی ذات او صفات دي.

همداراز عین الیقین: "داسي معامله چې پخپلو سترګو لیدو نه پس پرې یقین وکړی شي." [۱۸]

پورته موضوع په (فرهنګ اصطلاحات عرفاني ابن عربي) کښې داسې څرګندوي: "عین الیقین آنست که بدانی در وجود جز ذات و صفات و افعال حق نیست. عین الیقین آن است که بینی هر چه هست ذات و صفات او است." [۱۹]

او بیا دا لاندې شعر رااخلي:

"کــه همــه اوســت هرچــه هســت یقــین　　جـــــان و جانــان و دلبــر و دل و دیـــن
کـه سراسـر جهـان و هـر چـه در اوســـت　　عکـس یـک پرتـوی اسـت از رخ دوسـت" [۲۰]

د حاجي جمعه بارکزي د دیوان د لغت نامې په برخه کښې علم الیقین، حق الیقین اوعین الیقین په واضحه توګه له بېلګې سره ډېر ښه تشریح شوي، هلته یې دغه درې واړه حالته د مارخوړلي لـه حالاتو سره پرتله کړي، په دې توګه : "مار زهر لري که څوک وچیچي څه زهر یې بدن ته ننوزي، د درد او حتی د مړینې لامل یې ګرځي. له همدې کبله کله چې انسانان مار ووینې هغه وژني یا ترې

لرې تښتي ځکه چې ترې ډارېږي. دغه حالت د علم اليقين حالت دی چې د متواتر روايت له کبله ترلاسه شوی خو کله چې يو مار خوړلی ووينو له درد او تکليف نه سخت شکايت کوي. څوک يې د دم لپاره مارګير پسې ګرځي او څوک يې علاج ته ډاکټرانو پسې هلې ځلې کوي، دغه حالت ته عين اليقين وايې ځکه چې پر بل باندې د اغېز له امله حاصل شوی دی، که مونږ پخپله مار وچيچي نو پخپله له درده شکايت - کوو، ډاکټر او مارګير غواړو، که پړی هم ووينو ترې ډارېږو دا د حق اليقين حالت دی ځکه چې پر ځان باندې د اغېزې (ځاني تجربې) له کبله را ترلاسه شوی دی." [21]

۳ - حق اليقين: "الله تعالی د زړه په سترګو ليدل او پرې پوره پوره يقين راوړل." [22]

"د هغه شي پر ماهيت يقين لرل چې په ټولو حواسو درک شوی وي، د شک او ترديد ځای پکښې نه وي." [23]

حق اليقين تر علم اليقين وروسته او تر عين اليقين دمخه پړاو دی له دې له دې پړاو څخه موخه دا ده: کوم د حقيقت اثار او نښانې چې په کائيناتو او د انسان په خپل وجود کښې دي، د هغو په حقانيت کښې هيڅ ډول شک او ترديد پاتې نه شي. او زړه بالکل مطمين او ډاډه شي ان تر دې چې د انسان ژوند د نوموړي حقيقت په هنداره کښې پناه شي او د هغه په هر حرکت او چارچلند کښې دا ډول يقين په ښکاره ځلېږي.

په (فرهنګ اصطلاحات عرفاني ابن عربي) کښې وايي چې حق اليقين د صوفيانو په اصطلاح په حق کښې فنا کېدل او د احوالو له مقولې څخه علمي او شهودي بقا ته ويل کېږي، نه يوازې علم او پوهې ته. هر عالم پر مرينې باندې علم اليقين لري او کله چې ملک الموت ويني علم اليقين ترلاسه کوي او کله چې د مرينې څکه وکړي (مړ شي) نو حق اليقين يې بولي.

د نوموړي اثر خپل متن دا ډول دی: "در اصطلاح صوفيان عبارت است از فنای در حق و بقای علمی و شهودی از مقوله احوال است نه علم تنها. هر عالمی را به مرګ علم اليقين است و چون ملايکه موت را ببيند علم اليقين حاصلش شود و آنګاه که مرګ را بچشد حق اليقين است." [24]

حق اليقين د خدای(ج) د دوستانو او اولياوو درجه ده تر دې درجې وروسته او ډېره ځانګړې د عين اليقين درجه ده .

لنډيز:

بايد وويل شي چې د عيان ليدل (رويت) د ايمان په قوت کېږي نه په حجت او دليل. کله چې يو شخص د خدای جل جلاله په شتون او يووالی پوهېږي، په حجت او دليل ورته قايل شي،

دې ته علم الیقین وایي او کله چې یې په دې لاره کښې وکولی شول د کشف او شهود (لیدنې) خاوند شي او د حق درګاه ته نژدې شي، عین الیقین یې بولي. خو له دې پړاو نه پورته هغه څوک دی چې د ذات تجلی او د حق مشاهدې (لیدو) ته ورسېږي، له حق سره ملحق شي او خپل ځان د حق له ذات سره یو وګڼي، دې ته حق الیقین وایي.

یا هم: د صوفیانو په اند د عقل او نقل په واسطه د الله تعالی پېژندل علم الیقین دی - د خدای(ج) د ځینو صفتونو د تجلیاتو شهود عین الیقین او د پاک خدای(ج) د ذات د تجلیاتو شهود حق الیقین دی.

علم الیقین ظاهر شریعت است و عین الیقین اخلاص در ان است و حق الیقین مشاهده آن.

علم الیقین د شریعت ظاهر دی، عین الیقین په هغه کښې اخلاص دی او حق الیقین یې مشاهده (لیدنه) ده.

## ماخذونه


۱. دهخدا، علی اکبر، (۱۳۷۷ل). لغت نامه دهخدا. جلد پانزدهم «نواله ی ی ی»، زیر نظر: دکتر محمد معین و دکتر سید جعفر شهیدی، چاپ دوم از دوره جدید، موسسهٔ انتشارات و چاپ دانشگاه تهران. (مخ: ۲۳۸۰۶)
۲. حقپال، محمد اجان، (۱۳۸۰ل). تصوف په روښاني ادبي مکتب کښې. «قلمي نسخه». (مخ: ۱۰)
۳. سجادی، سید ضیاءالدین، (۱۳۸۳ل). مقدمه ای برمبانی عرفان و تصوف. سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاها «سمت»، وزارت فرهنگ و ارشاد اسلامی، تهران. (مخ: ۴۶)
۴. همدغه کتاب، (مخ: ۴۵)
۵. سعیدي، ګل بابا، (۱۳۹۱). فرهنگ اصطلاحات عرفانی ابن عربی. چاپ دوم، انتشارات شفیقي، تهران-کتابخانه ملی ایران. (مخ: ۱۰۲۵)
۶. همدغه کتاب، (مخ: ۵۵۲)
۷. همدغه کتاب، (مخ: ۵۵۳)

۸. همدغه کتاب، (مخ: ۲۲۳)
۹. خوږشکی، پرویز مهجور، (۲۰۰۵م). د ارزاني خوشکي کلیات. جدون پرنټنګ پریس پېښور، ډایرکټر پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي. (مخ: ۱۳۲)
۱۰. همدغه کتاب، (مخ: ۱۳۳)
۱۱. همدغه کتاب، (مخ: ۱۳۴)
۱۲. همدغه کتاب، (مخ: ۱۱۵۴)
۱۳. مغموم خټک، یار محمد، (۲۰۱۱م). روښانیان او پښتو ادب. پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، جدون پرینټنګ پریس. (مخ: ۲۴۷)
۱۴. عمید، حسن، (۱۳۶۰ل). فرهنگ عمید. چاپ شانزدهم، چاپخانه سپهر تهران، موسسه انتشارات امیر کبیر تهران. (مخ: ۱۱۱۰)
۱۵. همدغه کتاب، (مخ: ۱۱۱۰)
۱۶. همدغه کتاب، (مخ: ۹۳۲)
۱۷. امرخېل، عزیز الله او...، (۱۳۶۵). پښتو- پښتو تشریحي قاموس- څلورم ټوک- پښتو ټولنه. (مخ: ۳۱۳۸)
۱۸. همدغه کتاب، (مخ: ۳۱۵۳)
۱۹. سید، انوارالحق، (۱۹۷۳م). اردو- پښتو لغت. دویم جلد. (مخ: ۱۶۵۶)
۲۰. همدغه کتاب، (مخ: ۱۶۷۴)
۲۱. محمد، میاطفیل، (۱۹۸۳م). کشف المحجوب. (اردو ژباره)، اسلامک پبلیکېشنز لمټېډ-۱۳- ای شاه عالم مارکېټ، مکتبه العلمیه لیک روډ، لاهور. (مخ: ۳۹۴)
۲۲. همدغه کتاب، (مخ: ۳۹۵)
۲۳. رشاد، عبدالشکور، (۱۳۵۶ل). د حاجي جمعه بارکزي دیوان. د افغانستان د علومو اکاډیمي، د ژبو او ادبیاتو علمي او تحقیقي مرکز، پښتو ټولنه د ادبیاتو لوی مدیریت. (مخ: ۱۲- ۱۳)
۲۴. سید، انوارالحق، (۱۹۷۰م). اردو- پښتولغت. لومړی جلد. (مخ: ۹۳۲)